# الفجر

**مکی سورة دی ٣٠ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلۡفَجۡرِ ١

**قسم په سپیده داغ( هر سهار یا د لوی اختر د ورځې سهار).**

وَلَيَالٍ عَشۡرٖ ٢

**او( د ذی الحجې په لومړیو) لسو شپو( او د هغو په فضیلت).**

وَٱلشَّفۡعِ وَٱلۡوَتۡرِ ٣

**او په زوج( د آیام تشریق په لومړیو دوو ورځو) او وتر( د ایام تشریق په دریمه ورځ).**

وَٱلَّيۡلِ إِذَا يَسۡرِ ٤

**او په شپه چې ځی راځی.**

هَلۡ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٞ لِّذِي حِجۡرٍ ٥

**بې له شکه چې د پوهې او عقل لرونکی د دغو قسمونو په اعتبار او اهمیت ډیر ښه پوهیږی.( په همدغو پورتنیو حقایقو او واقعیتونو قسم چې کافران او منکران به له سخت عذاب سره مخامخ شی چې مثالونه یې په لاندې ډول دی):**

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ٦

**آیا نه پوهیږې چې ستا رب د( لومړی) عاد له قوم سره څه وکړل؟**

إِرَمَ ذَاتِ ٱلۡعِمَادِ ٧

**د ارم (له ښار سره) چې لوړې او هسکې ودانی پکې ولاړې وې.**

ٱلَّتِي لَمۡ يُخۡلَقۡ مِثۡلُهَا فِي ٱلۡبِلَٰدِ ٨

**داسې عمارتونه چې ساری یې په نورو هیوادو کې نه لیدل کیده.**

وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُواْ ٱلصَّخْرَ بِٱلْوَادِ ﴿٩﴾

او له ثمودیانو سره (یې څه وکړل؟) چې په هماغه دره کې یې( د لوړو او مستحکمو ودانیو د جوړولو لپاره) د تیږو تختې توږلې.

وَفِرْعَوْنَ ذِى ٱلْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾

او له فرعون سره چې( پیاوړې لښکرې او د تعذیب او شکنجو ډول ډول آلات او ابزار، او) میخونه، ورسره وو.

ٱلَّذِينَ طَغَوْاْ فِى ٱلْبِلَٰدِ ﴿١١﴾

هغوی چې په هر ښار کې به یې د بغاوت او سرکشی جنډه اوچتوله.

فَأَكْثَرُواْ فِيهَا ٱلْفَسَادَ ﴿١٢﴾

او هره خوا یې پکې د فساد او تباهۍ بازار تود کړی و؟

فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾

نو ستا ربورباندې د عذاب قمچینه را نازله کړه.

إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾

بې له شکه چې ستا رب په څاو کې دی( او د دوی ظلمونه او بربریت یې څاره).

فَأَمَّا ٱلْإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكْرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّىٓ

أَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾

خو انسان- کله چې یې رب ورته د ازمیښت لپاره عزت او نعمتونه ورکړی، نو وایی: رب مې داسې عزت راپه برخه کړ( چې زه یې وړ یم).

وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّىٓ أَهَٰنَنِ ﴿١٦﴾

او کله چې بیاورباندې د بل ازمیښت لپاره تنګسیا او بې وزلی راولی نو وایی: رب مې( زما هیڅ قدر او عزت و نه ساته بلکه په ناحقه یې) خوار او سپک کړم.

كَلَّاۖ بَل لَّا تُكۡرِمُونَ ٱلۡيَتِيمَ ﴿١٧﴾

نه- بلکه( تاسو ځکه سپک او ذلیل  او له الهی رحمت نه ورټل شوی چې) یتیم ته مو د عزت په سترګه ونه کتل.

وَلَا تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ﴿١٨﴾

او غریبانو او مسکینانو ته مو د خوراک ورکولو لپاره  یو بل  نه هڅول.

وَتَأۡكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ أَكۡلٗا لَّمّٗا ﴿١٩﴾

او میراث مو( بې له دې چې حلال او حرام یې وګورئ )په حریصانه توګه وخوړ.

وَتُحِبُّونَ ٱلۡمَالَ حُبّٗا جَمّٗا ﴿٢٠﴾

او مینه مو یوازې د مال دولت له راټولولو سره وه.

كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلۡأَرۡضُ دَكّٗا دَكّٗا ﴿٢١﴾

نو کله چې ځمکه په شدت سره ولرزېږي.

وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلۡمَلَكُ صَفّٗا صَفّٗا ﴿٢٢﴾

او ستا رب تشریف راوړی او پرښتې کتار کتار ودرېږي.

وَجِاْيٓءَ يَوۡمَئِذِۭ بِجَهَنَّمَۚ يَوۡمَئِذٖ يَتَذَكَّرُ ٱلۡإِنسَٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكۡرَىٰ ﴿٢٣﴾

او هغه ورځ چې دوزخ نږدې راوړل شي، نو د انسان عقل به سرته راشي، خو بیا به پوهه او پند اخستل ورته څه ګټه ولري؟

يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي قَدَّمۡتُ لِحَيَاتِي ﴿٢٤﴾

( د پښېمانۍ لاسونه به مروړي) او وایي به: ای کاش د دې ژوند لپاره مې( د مخلصانه عبادت او نیکو اعمالو توښه) له ځانه وړاندې را استولی وی.

فَيَوۡمَئِذٖ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٞ ﴿٢٥﴾

**نو په دې ورځ به( د مجرمينو لپاره) الهی عذاب په بې ساری توګه( سخت او شديد) وی.**

وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٞ ﴿٢٦﴾

**او تړل به يې هم په بې ساری توګه سخت وی.**

يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفۡسُ ٱلۡمُطۡمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾

**ای ډاډه او مطمئن نفسه!**

ٱرۡجِعِيٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةٗ مَّرۡضِيَّةٗ ﴿٢٨﴾

**د خپل رب حضور ته ستون شه، په داسې حال کې چې ته له هغه نه خوشاله او مشکور او رب دې ستا نه خوشاله او راضی دی.**

فَٱدۡخُلِي فِي عِبَٰدِي ﴿٢٩﴾

**نو زما په خاصو مقربو او غوره بندګانو کې شامل شه.**

وَٱدۡخُلِي جَنَّتِي ﴿٣٠﴾

**او جنت ته ننوځه.**

**« تمت سورة الفجر بفضل الله و رحمته»**

**===================**